هدايت الله هدايت

۲۰۱۰/۰٤/۱۷م

# د نړۍ د وتلو رسنيو او ورځپاڼو پېژندنه(۱۶) لوموند

د لوموند ورځپاڼه Le Monde



په پاريس کي د لوموند مرکزي دفتر

لوموند، Le Monde چي د «نړۍ» معنى وركوي په فرانسه كي د فرانسوي ژبي خوارا مشهوره ور ځپاڼه ده چي هر مازيګر په پاريس كي خپرېږي. دغه ورځپاڼه نن د نړۍ د وتلو او معتبره ورځپاڼو په كتار كي حسابېږي.

لوموند دد وهمي نړۍ والي جګړې په جريان كي درست هغه وخت چي المان د پاريس څخه د خپلو پوځونو په ايستلو پيل وكړ، د جنرال شارل دوګول په غوښتنه، د هوبرټ بوو مري Hubert Beuve- Mery لخوا چي د فرانسې يو وتلى شخصيت او د حقوق پوهني استاد وو په كال ۱۹۴۴ د ډسامبر په ۱۹ مه تاسيس سوه. جنرال شارل دوګول د هوبرټ څخه توقع درلودله چي نوموړى به دداسي يوې باكيفيته ورځپاڼي مسؤليت په غاړه واخلي چي د فرانسې فرهنګي او سياسي ارزښتونه پكښې منعكس سي. پخپله هوبرت هم لا د پخوا څخه دداسي يوې خپروني خيال په سر كي درلود چي وكولاى سي په ډيپلو ماتيكو محافلو كي او اصلاً د نړۍ والو اړيكو و تولو مينه والو ته په سياسي او اقتصادي عرصه كي د يوې خپروني د لاري ژوري څېړني وړاندي كړي . هغه چي په ۱۹۰۲ كي زېږدلى و، پخپله د شلمي پېړۍ د زياتو فجايعو د را مينځته كېدو شاهد وو، و داسي يوې خپروني ته لېواله وو چي واقعيتونه پكښې و څېړل سي . دغه ورځپاڼه د جګړې تر پايه پوري د جنرال دوګول « د فرانسې د ږغ » په نامه پېژندل كېدله او خپلو خپرونو ته يې دوام وركاوه.

د څو كلو په اوږدو كي د لوموند ورځپاڼه د داسي كسانو د پام وړ وګرځېدله چي د واقعي او خپلواكه اطلاعاتو او شننو په لټه كي ول او د نړۍ والو اړيكو په هكله يې د يوې با اتباره مرجع په توګه په لوموند كي پلټنه پسې كوله . د غي ورځپاڼي په هغه وخت كي د هوبرټ لورى پر مخ بياوه چي د مستعمراتو سره يې د خبرو پر ضرورت باندي تاكيد درلود او د ددواړو بلاكو په مقابل كي يې د خپل استقلال څخه ساتنه كوله.

لوموند خپل شهرت او دكاميابۍ راز د همدې لايقه او زحمتكښه بنسټ ايښونكي بوو مري هوبرټ په قوي درايت او ځغاستو كي تر لاسه كړ چي و يې كولاى سواى و لوموند ته ملي او نړۍ واله وجهه وركړي او په زرهاوو لوستونكي و هغه ته را جلب كړي . هوبرټ د خپل زكاوت او پوهي پر بنسټ داسي تلاښ وكړ چي د واقعيتونو په خپرولو سره ولوموند ته بې طرفه جهت وركړي او په خپلواكه توګه د هغه اداره په لاس كي واخلي . نوموړي تر خپل مرګه پوري ( ۱۹۶۹) و همدې رويې ته دوام وركړ . كه څه هم لوموند ته زياتره د يوې كيڼ اړخي ورځپاڼي په سترګه كتل كېده او خپروني يې په همدې موضع كي ارزيابي كېدلې ،خو هيڅكله يې د ميانه روي چلند پرې نښود او ويې كولاى سوه د يوې متعادلي او مينځپالي ورځپاڼي په توګه و پېژندل سي. ددې ورځپاڼي زياتره منتقدان په دې باور وه چي دغه ورځپاڼه د جمهور رئيس ژاک شيراک د رياست په وخت كي تل د هغه ضد لورى درلود.

لوموند د خپلي بې طرفۍ ، روښاني كرنلاري او د ژورناليزم د اصولو څخه سمه استفاده ددې باعث سوه چي ورځ په ورځ يې لوستونكي زيات سي. د هوبرټ د مرګ نه وروسته، لوموند همداسي وخپلي مشې ته دوام وركړ او په كال ۱۹۷۰ كي ددغي خپروني شمېره و يونيم لک نسخو ته ورسيده چي فرانسوي او غير فرانسوي ژبي لوستونكي يې په خپل غېږ كي را نيولي وه.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په خیر و لولئ

لکه د نورو غربي هیوادو په څیر په فرانسه کي هم د لویو رسنیو مالکیت د څو صنعتي او مالي ډلو په ولکه کي دئ .د هغي جملي نه دوې تسلیحاتي ډلي لکه آرنو لاګارډر چي په فرانسه کي د زیاتو خپرونو مالک دئ خو په عین حال کي پخپله د لاګارډ په نامه د وسلو جوړولو د یوه لوی شرکت رئیس هم دئ ، او یا لکه د داسو په نامه په فرانسه کي یوه عظیمه د جنګي جټ طیارو د جوړولو صنعتي مجتمع (Avions Marcel Dassault) چي د فرانسي او په نړۍ واله کچه د لوی میلیارډر سرژ داسو (Serge Dassault) یي مالک دئ او د هاشت HATCHETTE د ګروپ مالکیت یي هم په اختیار کي دئ چي په فرانسه کي د لي فیګارو او ل اکسپرس په ګډون په لسهاوه نوري ورځپاڼي او مجلي خپروي .

د لوموند ورځپاڼه بیا په فرانسه کي د فرانسي د ترټولو لویي مطبوعاتي مجتمع محصوله ده چي دلاوي لوموند د مجتمع (Groupe La Vie-Le Monde ) په نامه یادیږي. البته د یادوني وړ ده چي د لوموند ورځپاڼه ،د لوموند ډیپلو ماتیک د مشهوري میاشتنی خپروني سره (Le Monde Diplomatique) سره **چي و نړی والي ډیپلوماسی او د نړۍ و تحلیلي خبرو ته ځانګړی سوېده ، فرق لري . که څه هم یو وختي د لوموند ضمیمه وه ، خو اوس دهغه څخه بېله ا و خپل ځانته** ځانګړي او مستقله اداره او د تحریریه هیئت غړي لري، ولي د لوموند د ورځپاڼي مطبوعاتي ډله ددغي میاشتنی خپروني د ملکیت په سلو کي ۵۱ اسهام د ځان کړي دي پاتي په سلو کي ۴۹ یي په لوستونکو او چلونکو پوري اړه لري . ویل کیږي چي دغه دوهمه ځانګړتیایي نه یوازي په فرانسه کي بلکه په ټوله نړۍ کي بې ساري ګڼل سوېده چي د ورځپاڼي دغه وجهه د سیاسي، رسانه ای او مالي قدرتو څخه د هغي د استقلالیت ضمانت کوي.

دلوموند ورځپاڼي ته دهغي د ژورنالیستي هڅو او میتوډ له رویه و هغي ته د یوه اکاډمیک سازمان حیثیت ورکول سوی دئ او دا په دې خاطر چي په هغه کي زیاتره خبریالان نه یوازي داچي د ورځپاڼي رسمي مامورین دي بلکه ددې شرکت د ملکیت سهم لرونکي هم دي او کولای سي چي د لوړو ردو د اجرائیوي مدیرانو په ټاکنو او پریکړو کي ګډون وکړي.

په کال ۱۹۸۱ کال کي لوموند د فرانسي په انتخاباتو کي د سوشیالیسټ فرانسوامیتران څخه ملاتړ وکړ او دلیل یي داوو چي هغوی په دې عقیده وه چي په یوه لنډ وخت کي دحکومتي چارواکو بدلېدل د هیواد په ګټه تماميږي ،تردې چي دا حکومتونه د یوې اوږدې مودې لپاره واکمن وي . د نیویارک ټایمز غوندي نورو مشهوره ورځپاڼو نه بغیر ، په لوموند کي داسي باور موجود وو ، چي تردې چي زیاتره وخت د خبرو و انعکاس ته وقف سي نو په عوض کي ضرور ده چي د خبرو او پېښو و تحلیلي او تجزیوي اړخو ته هم باید زیاته پاملرنه وسي . ددې ورځپاڼي لیکوالان د ورځپاڼي د اصلي تګلاري په وجه آزاد دي او کولای سي هرڅه چي غواړي هغه ولیکي، په همدې خاطر ده چي لوموند د خپلو مخاطبینو احساسات را پاروي او په دې توګه یي زیات لیکوالان ځانته را جلب کړي دي.

اساسًا دغه ورځپاڼه زیاتره د روشنفکرانو او تحصیل یافته ګانو په قشر آباد ده او د هغوی ملاتړ د ځانه سره لري . خو دا کار ددې سبب ندی سوی چي ورځپاڼه دي خپل نور مخاطبان د لاسه ورکړي. و تیوریکي او فکري مباحثو ته پاملرنه ددې خپروني د اهمو نکاتو څخه ده. د لوموند مطبوعاتي ډله چي دم درحاله د لوموند ډیپلو ماتیک مهالنۍ هم خپروي او تیوریک بحثونه او **د نیولیبرالیزم او نورو سیاسي او ټولنیزو مضروپیدو پرضد خپروني لري** دغه معتبره خپروني د نړۍ په هره ګوښه کي د روشنفکرانو او د نظر د خاوندانو لخوا مطالعه کیږي.

دغه مازیګرنی ورځپاڼه په ۲۸ مخونو کي هره ورځ په څه کم څلورلکه نسخو کي خپریږي او په ۱۲۰ هیوادو کي خپل لوستونکي لري . لوموند نوري خپروني هم لري لکه د ۲ Le Monde چي د هفتي په آخرو کي خپریږي او یا تعلیمي لوموند (Le Monde de l'éducation) هغوی هم ځانته خپل مستقل د تحریریه هیئت غړي لري . دلوموند د ورځپاڼي پاڼي په متن کي د بېلا بیلو هنري او ادبي مطالبو څخه نیولې بیا تر ورزش او سیاست پوري مغزن مواد لري خو و زیاتو فرانسویانو ته بیا د لوموند سیاسي اړخ او ټولنیزه برخي زیات جذابیت لري.

د کال ۱۹۹۵ د ډسمبر د ۱۹ مي را پدې خوا **د لوموند ورځپاڼي د انترنیتي شبکي لخوا هم په لیکه سوېده چي په فرانسوي ژبه د ورځي تودي پیبني او خبرونه د خپلو لوستونکو او لیدونکو په واک کي ایږدي .**

په دې نیژدې تیرو کلو کي د لاوي – لوموند د فرانسي دغه د مطبوعاتو لویه مجتمع د سخت مالي بحرانه سره مخامخ سوه چي د لوموند د مدیر د ګوښه کېدو باعث و ګرځېده . په فرانسه کي د هغه مطبوعاتو د تیراژ رقم چي د مرجع حیثیت ورکول کیږي مخ پر کښته خوا روان دئ . په هغه وخت کي ډیرو روښان فکره فرانسویانو د لوموند د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه:** دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

بحران د ايسته کېدو په خاطر دا هيله څرګنده کړه چي دغه ورځپاڼه چي د فرانسي د ټولني په فکري ژوند کي بنيادي نقش اداء کوي د هغه ښکاريانو د ګزنده څخه په امانه سي چي په خزه کي ورته ناست دي . البته د نړۍ په کچه زياتي ورځپاڼي او نوري چاپي خپروني د زياتو و جوهاتو په خاطر دمالي بحرانو سره مخامخ کيږي او يو په بل پسي تړل کيږي او يا دا چي د لويو سرمايه داران په ولکه کي لويږي . خو لوموند دداسي بحرانو سره ډغري وهلي دي او خپلو خپرونو ته يې د خپلو لوستونکو او مينه والو په مرسته دوام ورکړی دئ.

څه ناڅه دوه کاله مخکي چي د افغانستان د لانجي په هکله په پاريس کي يو نړۍ وال کنفرانس جوړېدئ، د لوموند ورځپاڼي د افغانستان په هکله داسي کښلي وه چي : د افغانستان بحران يوازي يوه کورنۍ لانجه نه ده بلکه په دې هيواد کي يوه سيمه ائزه جګړه او حتی يوه نړۍ واله جګړه روانه ده . په افغانستان کي د بهرنيو هيوادو د ۷۰ زرو نه زياتو پوځيانو شتون، و ليري او نيژدې دولتو او د القاعده غوندي د ځو ملتيزو سخت دريزو شبکوته يې د لاسوهنو زمينه برابره کړېده . لوموند همدارنګه ليکلي وه چي، د افغانستان د ستونزو يو اساسي علت داهم دئ چي دغه هيواد د دريو مهمو سيمو په موښلولو کي يو محوري نقش لري. دغه سيمي لکه مينځني ختيځ، مرکزي آسيا او د هند دشبه قارې جنوبي سيمي ،چي تل د لويو جنجالو ځای وو. حتی تر دې دمخه هم افغانستان ددغه شاني محوري نقش په درلودلو سره د تزاري روسيي او د انګليس د امپرياليزم تر مينځ د لويو جګړو ميدان وو.

پای

مأخذونه : زما خپل يادابښتونه او دغه لاندي منابع ؛

http://en.wikipedia.org/wiki/Le_Monde
http://www.lemonde.fr
http://mondediplo.com/
http://en.wikipedia.org/wiki/Serge_Dassault
http://www.globaljournalist.org/stories/۲۰۰۰/۰۷/۰۱/hubert-beuve-mery-france/


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه**: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ